| English | پشتو / Pashto |
|---|---|
| **We are called NHS 24.** | **مونږ ته د دولت 24 ساعتی روغتیائي خدمت ( NHS 24) ویل کیږي.** |
| **Our phone number is 111. It is free to call.** | **زمونږ د تلیفون شمیره 111 ده. دې ته زنګ وهل وړیا دي.** |
| You can phone us if you feel ill and your doctor is closed. | که تاسو ناروغ یاست او ستاسو د ډاکټر کلینک بند وي نو تاسو مونږ ته زنګ وهلې شئ. |
| This may be at night or the weekend. | داسي امکان د شپې یا د اونۍ په پای کې کیدې شي. |
| Phone us if you need help and cannot wait until your doctor opens again. | که تاسو مرستې ته اړتیا لرئ او د خپل ډاکټر د کلینک د بیرته خلاصیدوانتظار نشئ کولی نو مونږ ته زنګ ووهئ. |
| You can also phone for someone else who is ill if they can't speak to us. | تاسو د بل داسې یو چا لپاره هم تلیفون کولی شئ چې ناروغ وی مونږ سره خبرې نشي کولی. |
| But if you or someone else is very ill and needs help very quickly, call 999 and ask for an ambulance. | خو که تاسو یا بل څوک ډیر ناروغه یاست او سمدستي مرستې ته اړتیا لرئ، 999 ته زنګ ووهئ او د امبولانس غوښتنه وکړئ. |

## How can we help?

We will tell you what care you can get.

We may say

- There is a doctor that you can see
- You should go to hospital
- There are some things you can do to feel better

## مونږ څنګ ډول مرسته کولی شو؟

مونږ به تاسو ته ووایو چې تاسو کومه پاملرنه ترلاسه کولی شئ.

کیدي شي مونږ تاسو ته ووایو

- یو ډاکټر شته چې تاسو ورسره لیدنه کولی شئ
- تاسو باید روغتون ته ولاړ شئ
- ځیني داسي شیان شتون لري چې تاسو یې د ښه احساس کولو لپاره ترسره کولی شئ

## What will happen when you call 111?

1. Dial 111 and press 9 on your phone to continue.
2. You will hear an automated answer. The automated answer is quite long. Wait until it finishes. Wait for a person to answer your call.
3. When they answer, say in English, "I speak Pashto. I need an interpreter. My telephone number is xxxx". This means I speak Pashto. I need an interpreter. My telephone number is xxxx.
4. Please stay on the line and wait for an interpreter to join the call.

## کله چې تاسو 111 ته زنګ ووهئ نو څه به پیښ شي ؟

1. 111 ډایل کړئ او د دوام لپاره په خپل تلیفون کې د 9 تنۍ ته فشار ورکړئ.
2. تاسو به یو اتوماتیک/خودکاره ځواب واورئ. اتوماتیک ځواب به ډیر اوږد وی. تر هغه وخته پورې انتظار وکړئ چې پای ته ورسیږي. انتظار وکړئ چې یو کس ستاسو تلیفون ته ځواب ووایی.
3. کله چې دوی ځواب ورکړي، په انګلیسي کې ووایئ، "I speak Pashto. I need an interpreter. My telephone number is xxxx". د دې مطلب دا دی چې "زه په پښتو خبرې کوم. زه یو ژباړونکي ته اړتیا لرم. زما د تلیفون شمیره xxxx ده".
4. مهرباني وکړئ په لیکه کې پاتې شئ او د د دې انتظار وکړئ چې ژباړونکي په تلیفوني اړیکه کې ګډون وکړي.

| | |
|---|---|
| There is more information in Pashto on our website. Go to www.nhsinform.scot/translations/languages/pashto | زمونږ په ویب پاڼه کې په پښتو ژبه نور معلومات هم شته. www.nhsinform.scot/translations/languages/pashto ته لاړ شئ |
| January 2022 | جنوری 2022 |